**لیکونکی:** دفرانسی دخبرگزاری آژانس (AFP)
**منبع او دخپریدو نیټه:** بی بیرایت بار (12-10-2019)
**ژباړونکی** : پوهندوی دوکتور سیدحسام «مل»

-----------------------------------------------------------------------------------

# د افغانستان نسل یوازې په دي جګړه باندي پوهیږي چې دا جګړه« 18» کلن کیږي

# Afghan generation knows only conflict as war turns 18



**کا بل (AFP)** : د ا فغا نستا ن جګړه دبوټا نو درنګولو د (13) کلن د عمر له څیښتن «**حمید الله**» څخه دزده کړي قیمت او ارزش اخیستی . فقر اوبی وزلی یولس کلن **صا بر** (Sabir) مجبورکړ چی کور پریږدي اودکا بل په سړکونو کي وچي

میوی وپلوري او نه کلن «نعمت الله» په دی هڅه کي واچوي چي دموټرو په یو پارک کی د کا ر په لټه کي اووسی . دا په افغانستان کي دډیری ماشومانو شمیر دي کوم چي په دی اونـي کـي یوبل مهم ګام پورته کوي اوهغه داچي د دوشنبی په ورځ دافغانستان روانه شخړه «جګړه» خپل (18) کلنی عمرته داخلیږي اوهغه داچي هر افغان ماشوم اوس یوائی دغه جګړه پیژندلي دي .

سوله په ا فغا نستا ن ګی مونږ ته د یو خوب په څیر ده ، دکابل دښار (۱۷) کلن زده کونکی **محمد مبین** وویل :
« ا فغا نستا ن یوائی هغه وخت پرمختګ کولی شي چي مونږ سوله ولرو» .

داکتوبرد میا شتی (اووم) کا ل (2001) کی امریکا پر افغانستان باندي هوایی برید دسپتمبر د (11) نیټی کال (2001) له برید څخه کوم چي دالقاعدی پواسطه سره دامریکي په دننه کي ترسره شو اوپه هغه برید کي (3000) کسا ن خپل ژوند دلاسه ورکړل ترسره کړ.

طا لبانو چي دالقاعدي مشر **اسامه بن لادن** امریکی ته له سپارلو څخه ډډه وکړ په څو اونیو کي له واکه وغورځول شو خود دیاغیانو راتلونکي جګړه له هغه وخته را په دي خوا روانه اودامریکي دجګړو په تاریخ کي دافغانستان جګړه تر ټولو اوږده جګړه بلل شوی ده .

تاوتریخوالي یوائی په دی وروستیو کلونو کی دلته په افغانستان کي له بد و نه لاپسی بد تر شوی ، کوم چي پر کوچنیا نو با ندی خپل نا وړی ا و نا متنا سب اغیزی غورځولي دي .

په کا بل کی د طب د پوهنځی یو محصل **« سید ابراهیم»** وویل : له هغه وخته چی مونږ زیږید لی یو مونږ پخپل هیواد افغانستان کی سوله نه دی لید لي بلکه یوائی جګړه او شخړه دی چی دلته تر سترګو کیږي .

ملګروملتونه تیر اونی یوراپورخپورکړ چي پکی ویل شوی اوهغه داچي له کا ل (2015) څخه بیا ترکا ل (2018) پوری د ا فغا ن د ما شوما نو دوضیعت په اړه ځیرونکو پخپلو څیړلو سره څرګنده کړي چی د ا فغا ن د ما شوما نو په وړاندي (14000) جدی تیری او سرغړونی مستند کړي دي چی دتیرو څلورو کلونو په پرتله زیاتوالي په ګوته کوي .

تا سی پخپله تصور وکړي چي (18) کلن شوی یا ست اما تاسو د خپل ټول ماشومتوب اود ودی په کلونو کي پرته له جګړی او شخړی بل شی مو نه وی پیژند لی او یا لید لي نو په دی صورت کی به د ستا سو وضیعت څرنګه وی؟ دا

مطلب  په ا فغا نستا ن کي  د ما شوما نو د سا تنی د موسسی مشر  **اونو وان منن** (Onno  Van  Manen)  وويل :
ژوند په افغا نستا ن کي دورځنی چا ودنی  ، ا نفجا ر ، ځا ن وژنی له امله  په ډار ، له ښونځی څخه ورکيد نه  سره دی اوداځکه چي د ماشوم مورو پلار ، ورور ، خور او خپل خپلوانو  نه پوهيږی چی ورک  شوی  بيرته  کورته  راوړل  کيږی اويا که نه ؟
د ملګروملتونو د ما شوما نو وجهی صند وق يا يونيسف وايي چی دا فغا ن پر ښونځيو با ندي بريد ونه  د  پروسږکا ل  په پرتله په کا ل (2017)  کی دری چنده وه  اود کا ل (2018) ترپايه پوری (1000)  افغانی ښونځيو دافغان زده کونکو پرمخ تړل شوی  دي.
يو لس کلن  **صابر**  چی دخپل کور څخه دغزنی له ولايت د پی نيټ (peanuts) ګل افتاب پرست ( sun flower) د تخمونو اود وچو ميوو  دپلورلو لپاره د کا بل مرکز ته راغلي دي  وايي : چي زه زده کړه نه کوم  ،ځکه چي پيسی نه لرم ، زه با يد خپل کورنـي  سره مرسته وکړم .
«  مونږ با يد چی ښونځيو ته لاړشو  اوزده کړه وکړو  اوداځکه چي  مونږ د تعليم  له لاری  جګړه  پای ته رسولي شو »

## منا سبی د ندی  نشته :

د (2001 ) کال يرغل په افغانستان کی د ډيری  ځوانانو  اوبيا په ځانګړی  توګه  انجونو لپاره  چی د طالبانو  دواکمنی په دوره کي  دزده کړي  له تر لاسه کولو څخه  منع  شوی وه   اوس  ځنی  دوامدار پرمختګونه  دلته ځوا نا نو لپا ره تر سترګو کيږي .
په کابل اودهيواد په نورو ښاری مرکزونو کي  ښونځي  او پوهنتونو نه  دودی  په حال کي دی  چی ګڼ شمير  ماشومان زده کړه کوی   ، اوس دغه نوی نسل به هيځکله هم وروسته له دی  به د طا لبا نو   د دوری قانون  ونه منی او وبه نه پيژني .
مګر له بده مرغه  دلته اوس په دی هيواد کي اقتصادی انډول دومره کمزوره پاتي دي  چي بی وزلي کورنـي  ډيری وختونه خپل ماشومان له ښونځيو  څخه راوباسی  ، خطرناکو کوڅو ته دګدايي اودپيسو دراټولو لپاره يی ليږي
د ډ يرو خوا نا نو  لبا ره دندي دومره  لږ دي  چي هغوي ډير کم  يا يو څه غوراوی ( option) لري  او هغه داچي  پرته له دي چي وطن پريږدی  يعنی هجرت  وکړی  يا له طالبانو سره  يا نور بلواګرو  ډلو سره  يوځای  شي ترڅو چي په منظم

ډول میاشتنی معا ش یا اجوره تر لاسه کړي .

په پلازمینه کا بل په یو بخت او ګڼه ګونه د موټرو په پا رک کي د وروستي لید نـي په مها ل (نه) کلن «**نعمت الله**» فرانس پرس خبریال ته وویل : چې هغه د کا ر لپا ره هرڅه چې دلاسه یې وشی ترسره کوی – ژاولي خرڅوی ، موټرونه وینځی او کا رونه پر مخ وړی تر څو چې یو څه پیسې تر لاسه کړي .

د بوټپا نو درنګولو (13) کلن «**حمید الله**» وویل چې هغه خوښه وه چې ښونځی ته تللای واي خو د خپل کورنـی لپاره دپیسو تولولوته اړتیا لری .

هغه زیاته کړ اوداسې وویل « **دلته سوله نشته،جګړه روانه ده ، زمونږ لپاره مناسبی دندی نشته** .» .

«**زه غواړم چی ښونځی ته لاړ شم ، زده کړه ترلاسه کړم او دخپل هیواد لپاره خدمت وکړم** »

دیونیسف داداری په وینا دافغانستان دنفوس (42) سلنه د (14) کالو څخه دټیټ عمر خاوندان چی دهغوی نفوس (3,7) میلونه کیږي اوس په ښونځی کي نشته یا چي ښونځیو ته نه ځی کوم چي ډیری دهغه انجنو دي.

متحده ایالات او طا لبا نو تیر کال د یوداسی معاملی په اړه سره په خبرو اترو پیل کړ چي کیدای شی داسلامپالو اوافغان حکومت تر مینځ د خبرو اترو لاره اواره کړي اوپه پای کي د اوربند لامل وشی ،مګر اولسمشر **دونالد ترامپ** په یو ناڅا پی ډول د طا لبا نو د تاوتریخوالي اند یښنی ته په ګوته نیولو سره دغه دخبرواترو روند فسخ کړ.

طا لبا نو د دوشنبي په ورځ داکتوبر د اوومی کلیزي په منا سبت یوه اعلامیه خپره کړه او ویې ویل چی امریکا « په ا فغا نستا ن کي په ګونډه شوی » دی .

طا لبا نو لیکلي «چی دا نیټه با ید دا فغا نستا ن ټولو د ښمنا نو لپا ره یوه بله یادونه وي چي هیڅکله اوهیڅوک نشی کولی په زوره سره ا فغا نا ن محکوم کړي اوله هغوی څخه حا کمیت ، آزادی او خپلواکي تر لاسه کړي ».

---------------------------------------------- **په سلامونو «2019-10-14»**